# نیاز

Ketabton.com

شعري ټولګه
شاعر معتصم شاهد

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالۍ

خپلې درنې کورنۍ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پيل د خبرو په ډول:

اې زما په هر رگ رگ کې بهېدونکو شيطانانو!

اې د انسانيت د گمراه کولو وظيفه لرونکو!

اې د لوی ابلېس رېشتيني زامنو!

اې د هر شر د اېجادولو سرچينو!

د انساني رگونو څخه ووځئ!

والوځئ او ولاړ سئ او خپل مشر ابليس ته زېری ورکړئ: چې أوس زموږ د اړتيا احساس نه کېږي.

اوس له انسانه خپل تعريف او پېژندنه هېره سوې ده.

اوس انسانان لکه د بلاوو يو او بل خوري.

اوس انسانان د انسان د وينو چېښلو اعتياد اخستی.

اوس انسان له انسانيت سره دوښمني أخستې.

اوس زموږ ضرورت نسته: وږی انسان د خدای په کور کي د خدای له بنده گانو ناهيلی راووت او کور ته يې هيڅ يو نه وړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل انسان د نورو انسانانو د وینو د تویولو لپاره هم د خدای کور ته روان وو تر څو د خدای ج کور د هغه د بنده گانو په وینو لړند کي.

چرته بل انسان د نورو انسانانو د خوښیو د لمنځه وړلو دپاره پلان جوړوئ او یو بل انسان بیا لگیاوو تر څو څه ډؤل د یو انسان د اولادونو روزي خپلو اولادونو ته حواله کړې.

ورته ووایاست دا هر څه موږ نه کول دا د آدم ع اولادې کول او د آدم ع د اولادونو سره یې کول.

تاسو ولاړ سئ تاسو به زموږ په شیطاني کړنو د شرم احساس وکړئ او مشر به مو ورتیي چي تاسو څه وکړه اې د ابلیس زامنو تاسو ولاړ سئ أؤ أرام وکـئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مناجات

اې د انسانیت خدایه پر موږ رحم وکه!

د انساني هیولا  په داخل کي انساني عاطفه واچوه!

ژؤند ته د ژؤند رنګ ورکه او د مرګه مخکي مو مه وژنه!

اې د ښکلا خالقه د انسان د جوړ سوې وجود په هره برخه کي مینه د ویني په څیر و بیوه او په رګونو کي د ویني په څېر د میني ضرورت ایجاد که!

اې رحمان رحیمه مهرباني دي پر موږ د رزق غوندي ؤلؤرؤه او د خپل دې صفت څخه دې زموږ شاوخوا ما حؤل پېمانه که!

موږ ته ژؤند راکه موږ ته مینه راکه!

ستا د میني د خزانو څخه د میني لاهوتي باران وکه, ارواح مقدس که او د شیطاني اراواوو د منځه مو وباسه.

اې مالکه زموږ پر روح د عواطفو اغېز زیات که او احساسات مو را کابو که!

???نه پوهېږم نن مي ؤلي روح زورېږي کوم کمی پکښي تر سترګو کېږي ته یې پوره که

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیګا شپه یې د یو مست جانان په غیږ کې
ځان یې هیر وو او خــــبر د توبې نه وو

ما وو نیاز چې بیخي زیات سره نژدې وو
نو پیدا به وخت اکثر د توبې نــــــــه وو

تیره شپه یې بېله یاره تیره کـــــړې
شیخه پریده نن سحر د توبـــې نه وو

د ګنـــا موسم وو لمر تور سوی نه وو
او تړلی بادار ور د تـــــــوبې نه وو

دا چې نن هم په یو یاد کې ویده کیږي
پر شاهد نو څه اثر د تـــــــوبې نه وو

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوېدلی یم له شرنګ او شوره هغه شانتي نه یم
زنګو وهلی بند ځنځیر د بندو دروازو یم

د ژوند قمار خانه کې مې د ژوند سامان بایللی
روان یمه و کورته شاته په کتو یم

دی مه وژنئ ترې پاته به یو ښکولې بې اسري شي
ما خپل د وینو پور ورته بخښلی بې پښتو یم

د سپینو اننګو په سپین حرم کې توره زخه
ددې کعبې طواف ته در روان یم په درتلو یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې له ښکلا نه تاثیر څه رنګه وي
ستا په کتو مې تجربه کولـــــــــه

زه مې د ښځې اوښکو بند کړمه چې
د څه ګنا مې اراده کولـــــــــــــــه

لمر وو وه مځکې ته را کښته سولو
یو چا په څه غرور سجده کولـــــه

ژوند په څه خوند په موسیقۍ روان وو
ما یې د تللو تماشه کولـــــــــــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې مور بچی یې قتل کړلو
د بلي مور غېږ کې دمه کـــوله

د یو تللي سړي یاد تازه کومه
یو نامه په سر د شونډو یادومه

---

اوس یې هم نیاز همیش راسره مل وي
اوس لا هم ورپسي غلی غلی مرمه

د راتګ سره دي دا خبره هم وي
راته وایې به چې اوس در څخه ځمه

څه جمال دي وو چې سم درپسي مړ وم
څه جلال دي وو ستا مخکي لړزیدمه

دا شاهد خو د نیاز نیاز تبا کړ
ستا نامې سره به زه هم یادیدمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه به ورته کوز سم که بیا هم سو را تر غاړي گـل
شونډي شونډي شونډي اوف اوف دواړي دواړي دواړي گل

پښو ته یې د سپینو اننگو سوخي را کوزه ســوه
کله چې د سپینو قدمو په سر ولاړ یې گــــــل

ما ورتـــــه د خپلو اوښکو اوبه ورکړلې
سو مې لاس کې بیا هم ولي ولي پاڼي پاڼي گل

اوس د طبیت د ظلم دا اندازه و گـــــــورئ
لمر ســــــره شبنم ځي او تر شا ورپسي ژاړي گل

هغه چې راتگ یې هواگاني عنبریني کـــــړې
گل لره ولاړ دئ او د گل خوشبویي غواړي گل

(c) ketabton.com: The Digital Library

محبت د متضادو يو ځای والی
محبـــــت د فرشتو د نور وزرې

---

د خالق در کې به څه کمی رانه سي
ژوند دي داسي نه وي لږ شاني دي سم سي

د څراغ رڼا به خامخا کړي تته
دا لوګی دي د امکان تر حده کم سي

-

---

د وخت ملا دي څوک خبرکاندي په دې خبره
منصور موجود دئ د حالاتو ځنځيرونه نسته

---

پاچا لګيا دئ د پولادو دروازې جوړوي
په دې خبر نه دئ د ښار يې ديوالونه نسته

يو څوک مې ده وه سترګو ته ولاړه لکه سوله
خو هيڅکله يې را هم نه کړه غاړه لکه سوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

بانه دي جاسوسان وه شر ته مه پريږده شيطاني
د زړه خبر په سترګو سترګو ژباړه لکه سوله

د کلي خلګ شر خوښوي جنګ خوښوي ځګه
له دوی څخه په تيښته يې موږ دواړه لکه سوله

---

هغه هم وخت وو ستا نامه په بسم الله يادېده
هغه هم وخت وو درپسې چې اوښتې سترګې

يوه نامه يې ورته څو څو ځلي واخستله
پيغلي د پلار خواته ور واړولي مړې سترګې

---

مينه په هغه مانا نه ده چې ته فکر کوې
يعقوب په زوی پسي بايللي ولي دوې سترګې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکولی پاته ته وای لکه اوس چې یې
بیا به مې هم زړه وای لکه اوس چې یې

ماته چې دا ستا ضرورت پیښ نه وای
نیازه ته به څه وای لکه اوس چې یې

دا خوب حقیقت وای پاته وای داسې
غیږ کې مې اوده وای لکه اوس چې یې

زه به پکښې خوښ ته به اسانه وای
ژونده داسې نه وای لکه اوس چې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

درد یواځې توب او تنهايي الله
نیازه !نور به څه راباندې اړوې

نن مې قسم کړی دئ چې ښکل دې کړم
دا قسم به نه راباندې اړوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه مرمه په دوږخ نه جنتونو کې اوسيږم
وه ژوند ته اراده نسته له مرگه څه ډاريږم

غرور مې راته پښو کې پښتنې زولنې ايښې
احساسه داسې مه وايه چې نه پسې زوريږم

د ژوند دا حقيقت موهم په ځان باندې منلی
روان رانه ياران دي دادئ يو يو پاتې کيږم

اوس گرانه گزاره سوه اوس نو داهم يقيني ده
يا غاړه درنه غواړم يادې پښو ته درکوزيږم

ستا درد زما بيواکه اندامونه داسې نه ده
راړنگ سوه يو په بل باندې اوس زه هم رانړيږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

غوښتني د انسان دي او د ميني خواهشات دي
دا بعضي بعضي ښکولي لويه خدايه آدم ذات دي ؟

ته راسه ستا کمی دئ د اياز سکنی وروره
پشاني د محمود درپسي ډير ډير زړونه مات دي

شندلي په مستۍ کې لمر اميل نه د سپوږمۍ دي
دا ستوري خو غمي د محبت د خربات دي

دا ځکه دي په توره شپه کوم خولې غوښتنه
ولاړي په مرۍ کې دي اوبه آب حيات دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه مې زړه کې سور پاته ! نه نه ته مې ساز نه يې
اوس دي زه محمود نه يم ! اوس مې ته اياز نه يې

اې ختمه پرتا نه سوه ! اې اوس مې لا زړه مست دئ
اې نه مې د ميني پاى ! اې ته مې اغاز نه يې

ځه ورځه ورځه ورځه ! زه که دي لايق نه وم
اوس نو ته بدرنگه يې ! اوس لايق د ناز نه يې

اوښکي اوښکې تم نه سوې ! راغلې حال دي ووايه
ځه نو راڅرگند که ځان ! ځه اوس خونو راز نه يې

اوس ځه بې سلامه ځه ! اوس درپسي نه مرمه
اوس دي معتصم نه يم ! اوس مې ته نياز نه يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس د محبت ښځه چاپيري بلاګاني دي
لا د محبت فيصلې سختي دي او ګراني دي

درد د محبت زړه کې زغمل زغمل ثواب لري
أوښکي رياکاري دي پر مخ باندي رواني دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعرونو کې خيالونه په لفظونو کې خيالونه
د حسن په معيار کې په رنګونو کې خيالونه

ژوند څه دئ ژوند همدا دئ دغه دوه ټکي او بس
په خيال کې توهم دئ او په زړونو کې خيالونه

دا حسن پرستي را څخه واخلې ما اذاد کړې
را ټول مې که خالقه کتابونو کې خــــيالـــــــــونه

د اوښکو بدرګه کې دوعاګاني ورسره
روان دئ ! زلمی ځي ورسره خور تر دروازې

زما مخکي مور نه ژاړي خو ورسته زرور ژاړي
چې وځم په سفر باندي د کور تر دروازې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځومره يې زليله کړې ! ځومره يې ميرات کړې
نه يې پرشته کړلې ! نه يې آدم زات کړې

دا د دوږخونو سپي ! دلته هم سته هلته هم
دا ميخانه ورانه کړې ! جوړ ورنه جمات کړې

نيازه ته به پره نسې ! نيازه نياز به پاته سې
زړه به مې راجوړ نه کې ! زړه به مې را مات کړې

راسئ دې دوعا لره ! ووايو آمېن گرده
حسن خدايه کم مه کړې ! حسن خدايه زيات کړې

نفسه که واکمن سولې ! مات که دې ضمير کړلو
ته به سې خالق د خداى ! خداى به سمنات کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راځئ کې اخلئ؛ ارزان مې زړه دئ
سترگي مې مځکه؛ اسمان مې زړه دئ

ته انځور سوی؛ خیال کې غلط یې
ښکولی خو نه یې؛ ارمان مې زړه دئ

نیازبینه راسه ؛ نیاز دي ډیر سوی
جانان مې نیاز دئ؛ جانان مې زړه دئ

وه عزرایله؛ هلـــــته مه ځه
مور مې ژوندون دئ؛ پلار جان مې زړه دئ

ستا د تگ ورسته؛ داسي احساس دئ
پښې مې ولاړي؛ روان مې زړه دئ

په شاعرۍ کې ؛ دغه دوه خلگ
درویش مې ځان دئ؛ کاروان مې زړه دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یا خالقه یا مالکه

زما هوس راته قابو که

زما هوس خد سره سوی

زما زات زما له لاسه

راوتلی راوتلی

د یو چا وه خواته تللی

نابللی نابللی

زه له انسه پیمانه یم

نه د ځان نه ده هغه یم

زه د هر انسان تابې یم

د هر چا سپی د کوڅې یم

ولاړ ستا په دروازې یم

زه په رنگ د تهمت رنگ رنگ

د یو چا د پانزیب شرنگ شرنگ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترنگه ترنگه ترنگا ترنگ ترنگ

آهها آهها آهها آهها

لالالا لالالا

سر مي پروت د ډمي پښو کې

له هوس هوس هوسه

گنهگار گنهگار زه زه

تر خپل وسه وسه وسه

د گناه له تندي تندي

يه اوبه اوبه نفسه

مشرفه د مخلوقه

مقدسه مقدسه مقدسه

يه له خپل هوسه تنگه

شرنگا شرنگا شرنگا شرنگه

ترنگا ترنگا ترنگا ترنگه

آهها آهها آهها آهها

لالالا لالالا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یه د هري بدئ پلاره

یا انسان انسان انسانه

زه خو تنگ یمه له ځانه

ته لا اوس قربان قربان یې

یا فرید احمد قربانهFarid Qurban

زه د خپل هوس بنده یم

عبادت کوم له ځانه

ای په ډیرو رنگو رنگه

شرنگا شرنگا شرنگا شرنگه

آهها آهها

لاللالاللا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو څو شیبې له ما سره جانانه تم کیدلای
روانه زمانه داسې روانه تم کیــــــــدلای

زمــــــا غورور له ما څخه زما نیاز اخستئ
بې نیازه خو چې ته هم بې احسانه تم کیدلای

اې ما به ورنه هم څو غړفه کړې وای قربان جار
اخ کاشکې له نشې سره ایمانه تــــم کــــیدلای

(c) ketabton.com: The Digital Library

دژوند کولو هر ډول قانون له مانه کوز دئ
احسان دی په ما نه کوی ژوندون له ما نه کوز دئ

ددې زمانې خلک دې له مانه مینه زده کی
محمود څخه لږ پاس یم او مجنون له مانه کوز دئ

په ما باندی دی دومره احسان سر سترگی منمه
چې دومره لیونی سوم چې جنون له مانه کوز دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ها ښکولی سړی د چا له زاته دئ
دا حسن خو خدایه ستا له زاته دئ

چا ویل آدم هم دومـــره ښکولی وو
چا وې د هـــــــــــــــــــــــــوا انا د زاته دئ

نه په جنتو کې دومره حســــــــن سته
نه خو د همدي دنیا ده زاته دئ

تاتــــــــــــــــــــه مخامخ قســم په یو الله
ستا مخکې هوس جلا له زاته دئ

ځنګه درد چې ته راکوې وه ښکولیه
داسي درد د یو الله له زاته دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په څه نیمگړی یم
بیله زړه نیمگړی یم

ستا له نوره جوړ یمه
بیا هم زه نیمگړی یم

بیله تا نه هیڅ نه یم
څومره ښه نیمگړی یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه راوتی یم له ځانه

ستا په لټه پسي وتی

ځان مې ورک کړ ته هم نه وي

ته نو چیرته ته نو څه وي ؟

ته روان زه در پسي وم

آن تر دې حده زه ولاړم

چې کوم ځای کې چې نه ته وې

نه وجود وو هلته موجود وو

نه عدم وو پاتې سوی

زه وم خاوري ته اوبه وي

ته وي چیرته ته نو څه وې

د آدم نه له هوا نه

د یوسف او زلیخا نه

د مجنون او د لیلا نه

زه وم سو قدمه وړاندي

آن د ژوند د ابتدا نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما د عشق طلب کړی

ما تر اوښه پیدا نه کړې

زه نو څه وم ته نو څه وې

ته وې چیرته ته نو څه وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه کافر وم خو اوس نه یم

ستا د سترګو له تحسینه

اې له ګلو نه نازکه

اې له هر چانه حسینه

ما په یبلو پښو له ځانه

مزل وکړو مزل وکړو

زه وه تاته در نژدې سوم

دومره زیات له حده تیر سوم

آن له ځانه سوم پنا نا

نانانا

ـ نانانا

ـ نانانا

ما حدود ټوله پریښي

زه له هر حده اوښتئ

هر خواهش مې تر پښو لاندې

ستا وه پښو ته غورزولی

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مې هره لحظه غورزي

ستا د نوم د اوریدانا

نانانا

ـ نانانا

ـ نانانا

منوره ستا له زاته

زما زات ته رڼا راسي

ستا په حسن کې مې عقل

د خودئ له پولو اوړي

زما روح کې زندگي یې

زما عقل کې خودي یې

یه له هر څه نه سیوانا

نانانا

ـ نانانا

ــ نانانا

.

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه انسان شهوت پرست یم

ته د حسن ابتدا یې

ته دښکولو ښکولو ښکولو

سرچینه یې د ښکلا یې

زه په څه باندي تمام یم

ورانیدونکی یم گمنام یم

زه له ډیرو مرکب یم

ته بسیط یې ته تنها یې

ته تصویر د مصور یې

ته د هر زهن نه آخوا

ته له هر څه څخه پورته

ته در هر عقل سیوا یې

زه په خپله لار روان یم

دي کې هم خبره ستا ده

زه که ښه کوم که بد کړم

که ثواب کې مې وي گوتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

گنا هم له تا پیدا ده

زه ضرور په تا مین یم

دا خو څه موهمه نه ده

ځکه ته خو ته یې ته یې

ته حسین یې ته ښایسته یې

ته زما د شاعرۍ نه

ها مهینه زمزمه یې

د ګلاب په پاڼو پاڼو

د شبنم نرمه خوله یې

دا چې ته په ما مین یې

دغه ټکی ډیر موهم دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوالگرې جينۍ دا خبره سخته وکړه
شهيد ورور مې همدا رنګه زلمی وو لکه ته

هغه قام کې أمکان سته لا هم اوس د ژوند کولو
په کوم قوم کې چې پاته يو سړی وو لکه ته

---

زه يې ساتمه زما غريب أولس دئ
لا تر اوسه مې په ستوني کې نفس دئ

وايه پاکې دي چې لمنځ ورباندي وکم
ما د اوښکو په اوبو کړی اودس دئ

مبارک دئ ما پرې زر سجدې کړي
زما هيواد وه ماته بيت المقدس دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضمیر مې د ښــــــــــــکلا په زنځیرونو کې تړلی
احساس مې د شیطان په هوسونو کې تمام سو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندون څه دئ؟

ژوند هدف دئ

ژوند مقصد حاصلول دي

ژوند مطلب ته رسيدل دي

ژوند د خپلو خواهشاتو

خپلي موټي ته راوړل دي

ژوند د وخت وخت تيرول دي

ژوند له وخته تجربې دي

ژوند کې ډيري فلسفې دي

ژوند د بل شاته کول دي

ژوند د ځان مخته کول دي

ژوند يو څه غوښتل له خدايه

له مسيح او له بگوانه

له جماته او له ممبره

پاپ له خپلې کليسا نه

دا هر څه کې مطلب نغښتی

(c) ketabton.com: The Digital Library

که وې آن د خدای رضا نه

ژوند د ژوند لپاره څه دي

دي کې هم رازونه شته دي

پاپ جنت وه ځانته غواړي

هندو نوی ژوند دونیا کې

مسلمان دوږخ نه ځغلي

دغه ټول دي مطلبونه

ژوند اوس څه دئ؟

ژوند هدف دئ

د شپې په نهو بجو

وم خوبولی غوندي

تا د سریال نړۍ کې

په نازا سترگي خوږې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په تا سترګي خوږېږي

ستا له خپل سر نه کړئ

دواړه لاسونه وه تاو

په وريښمني ويښتانو

کې دي وې ګوتي بندي

زما وږي دواړي سترګي

ستا په طرف کږي وي

سترګي خو اوښتلي

د کوټې هر طرف ته

خو زړه دانه غوښتله

زړه ستا تصوير جوړوو

چې زړه کې تل پاته سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تانه ورسته به مې ډير خلګ وه زړه ته راسي
له تا سره به هم زه ډير يواځيتوب کې يمه

که په جنت کې زه او حوري سره ښنګ په ښنګ يو
خو بيله تا به د دنيا په ليونتوب کې يمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ځوانۍ موسم کې دا غلطي کیــــــــږي
ښه پخه مېنه د هر سړي خوښیــــــــــږي

د انگورو دانې پلار له جنت و یوســــــــت
د بابا میراث وه زوی ته پاته کیـــــــــږي

اې په دې خاطر مې ډیر زیات درکتــــــلي
چې د خدای حســــــن په تا کې معلومیږي

خور به ووې لالا ستــــــــــا بلا دي واخلم
ما چې کومه ورز ویل ســــــر مې خوږیږي

ستا ځواني به هم یو وخت سي بې موسمه
خو خزان هم کله ښه پـــــه چا لگیــــــږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان کې معدوم يمه خو تاکې موجـــــــــود هم يمه
ښکولې مې ټوله خوبښ دي يو څه محـــدود هم يمه

ستا سور او سپين مخ گلاب ستا تکي توري سترگي
ته که اياز يې منم خو زه محمــــــــــود هم يمــــه

ما گوره قتل نه کړې د ځان قاتل بخښمــــــــــــــــه
زه د ځان صرف نه يم د مور وجود هم يمــــــــه

شاهد صادق زړه لري دغه يو ښکولی يې خـــــوښ
زړه کې صادق هم يمه زړه کې مردود هم يمــــــه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدايه څه وکړم هر ښکولی مې خوښيــــږي
د هرچا تصوير مې سترگــــــــو کې پاتېږي

ستا د تن هوا زما د وجود ســـــــــــاه ده
ستا دسپين وجود نه عطر راڅڅيـــــــــږي

زما په ټوله نړۍ بد اوسيـــــــــــږي تور رنگ
ستا په تن کې مې بيا تور کالي خوښيـــــږي

ستا وجود کې مي خپل ځان غـير موجود کړ
ستا په سترگو کې مې ستــــــرگي در ډوبيږي

ټلويزيون تـــــه پــــه کتــــو دي کړې خرابې
ليونيــــــــــــــه سار دي بيا سترگې خوږيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د ژوند ناکامه سوال يم ته د هغه ســوال جواب يې
زه د هيڅا محبوب نه يم ته د هر چا انتـــــــخاب يې

زه د ژوند شليدلې پاڼې داسي پاڼې پــــــــــروت يم
ته د ميني ساتل سوی ته پوره پوره کتـــــــــاب يې

زه ددې دنيا ازغی يم د هرچا سترګو کې بـــــــــد يم
ته خوشبويه عنبرين يې د دريم موســــــــم ګلاب يې

زه منسوخه يم نيم ګړی زه د هيڅــــــا ســـــره نه يم
ته د هر چا په کتاب کې ته خو ځانته ځانتـــه باب يې

زه ټوټې ټوټې منګی يم د ژوندون د خوړ پــــــر غاړه
ته يې جام د ساقي لاس کې ته په خپله هم شراب يې

زه د ميني په دنيــــا کې نه زاهد سوم نه ساقي سوم
ته د ميني په دنيا کې هم ګنــــــاه يې هم ثــــواب يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاوکړي پر فلنگ چا بيا مزې پر ځـــــــــنگانه
عجيبه مزه دار وي خوب د شـــپې پر ځنگانه

خوب نه راځي جانانه بيخي بد يم عادت سوی
تر اوســــه بــــــــيدولمــه ادې پر ځنـــگانه

تا يو وخت زما تصوير سيځلی نه وو
تا يو وخت راته ويلــــې الـــوداع وه

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

د لمـــر مخي وه راتگ ته انتظـــار کي
تاريکه ده گوره مـــــړ د کور څراغ دئ

تسلط دي پر ما دومره دي زيات سوی
په قابو کې مي نه زړه او نه دماغ دئ

گتمئ راکړي وايي آ زمايي دربانـــدي
په يارئ باندي مات کړی مو چناغ دئ

صبر وکه چې ميوه ترې ټولـــــــــومه
رسيدلی دي اشنا د حســــــن باغ دئ

د شاهــد په زړه به څنگه زخــــم نـه وي
چي په زنه دي پاس دومره ښکولی داغ دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مینه مینه کي دي یاره څه مزه ده
ستا وینا چي یاره دومره ښایسته ده

خدای ج لپاره ورته ووایاست جنګ بس کۍ
ډکه سوي مو دکلي هدیره ده

جنګ به ولي ځي او سوله څنګه راسي
په همدي جنګ کي د خان صایب پایده ده

ها ماشوم ضرور له لوږي څه مړ کیږي
پلار یي نن شهید سو مور یي مخکي مړه ده

مور مي چغي کړي یو څوک یي راخبر کۍ
زوی مي وتی دۍ په کلي کي جګړه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چي نن يي جنازي ته ټول ژاړي
د همدي غريب سبا ورز کي کي  کوژده ده

زه چي هر څه وايم  هيڅ ورپکښي نه وي
ستا د ژوند هره خبره فلسفه ده

ماوي دي شاهد نه ټوله وار خطا کي
ګوره مه کوه رشتيا زما روژه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میني او الفت شعار مو نه د ځېرې لیدلی
په کرکه مو لړلي ؤه د ښار ټول دېوالونه

زرګونه ښکلي تېر سول چا ور وه هم نه کتله
لاسونو کي مو پاتي سوله زړونه او ګلونه

مور چیغي نارې ووهلي خپل حق مو ادا کئ
راوېښ وربانديي نه سوه بې ضمیره وجدانونه

د خدای د کور د منځه بې نوا انسانان ولاړه
اوږده یې کړه بتانو ډبرینو ته لاسونه

مور زړه په څه مغروره خدای ناترسه باندي داو کئ
په مور به هم تړلې وه بې شماره خلګو زړونه

بس یو ځلي کتل دي ؤه اؤ یؤ ځلي مسکا
زمور بس همدا هیله وه هم دومره امیدونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ سل یاران پر سلو لارو ولاړه
یک تنها ناست د میراتو هیلو سر ته

سترګي مه اړوه جار چي په شر واوړو
افغانان یو بهانه غواړو وه شر ته

---

زموږ پر هیلو څه د ناهیلۍ ګردونه پنډ دي
زموږ په امیدونو د مرګي وبا د ګډه

زما هره بریا کي د ښایستو د سوالو اوښکي
زما په زندګۍ د مور او پلار دعا د ګډه

له ډاره د ښایستو سترګو ته هم شکمن ورګورو
په ښار کي مو د کرکي نفرتو بلا د ګډه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا هغسي دنيا ته ځان ثابت کړ لکه وې چي
په تا پسي زرگونه قافلې د انسانانو

ته نور سه ته رڼا سه ته څراغ سه ته مشعل سه
پرتې دي مخ کي تکي توري شپې د انسانانو

په کومه قافله کي چي تورتم رڼا يوه وي
هلته هيلي حتما ماتيدې د انسانانو

---

موږ په عشق کي ليوني سو ته په دار سوې
څومره سخت قانون دي کښېښوٴ ئمنصوره

ما مخ واړو ځاو ټول نظر مي ټول کـړ
افغاني بانه دي ټيټ نه سول مغروره

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هیواد له بربادیه
خلاص نه یار ته سو نه رب ته

موږ به سترګو ته قلف کښېږدو
جوني پرېږدی و مکتب ته

د عشق لاره کي بې لاري
تابع نه یو و ادب ته

داخل ستا د مخ په دین سو
ستا د سترګو و مذهب ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ بدنام د زمانې
د حسينو په کتو

نه ته ښه سوې نه مي زړه
نه عشق وسو نه پښتو

نه تسبېح سولې نه ساز
نه د خداى نه د ښايستو

---

چي دي حسن زما د عشق غوندي مظلوم سي
نو احساس به مي هغه وخت در معلوم سي

آتشي حسنه ته راسه او بيا گوره
دا وجود به درته ويلي لکه موم سي

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کلي په ديوال باندي به وليکـــــــــمه امن

او ستا په شيدويې اننگو تکه سپينه سوله

.

.

.

---

.

.

د کلي په دېوال ليکلی امن څوک وران نه کړي

او ستا د شيدويې اننگو سوله دي شې سوله

---

نه ډک سو د ملنگ کچکول د خدای ج د خزانو څه

نه زياته دا دنيا سوه له قارون او له نمروده

ژوندونه څنگه تنگ دي گلابي قالب کي سولې

نو روحه څنگه ولاړلې له دې نازک وجوده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژېړ کميسي جينۍ ولي راته خاندې
ژوند مي ستا د کميسه په شانتي نه دی
چي رنگونه يې ځلا کوي پړکيږي
نه يې منځ کي د خالونو رڼاګاني
نه يې پټي آيني منځ کي ځليږي
ژېړ کميسي جينۍ پورته دي ټيکری
لکه ژوند داسي وه غاړي ته در لويږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خو ته وبايللې ښه نو ته پرې غور وکه
ما سودا بايله او تا خپل خرېدار و بايللی

د وطن هره منظره له ساندو ساندو ډکه
سحر په وير راځي ماښام يې خمار و بايللی

زموږ د زړونو د هوس دروازې بندي سولې
زموږ خيالونو د خوښۍ انتظار و بايللی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځيني وخت ژوند سړی اړ کي چي ځان پريږدي
ځيني وخت به دي د نه وجود ارمان وي

---

ما دسوال لاس هر سړي ته اوږد کړ بيا هم
راته را نه کړ هيچا هم په اخلاص لاس

---

ځيني پيښي بيخي هيڅ له خياله نه ځي
بعضي وخت سړی له ځانه په ضرور يي

---

ضرورت بيخي د نه سړي اولاد دئ
د هرچا در ټکولو ته دي اړ کـــــــي

---

احتياجه ټول وطن کي بل څوک نه وو
ضرورته تا زمــــــــا گريوان پيدا کړ

---

بدرنگ ژوند او تنگ دستي او بلها زور
زما د اوس وخت لومړني انډيوالان دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلا په ځان پسې د ځان به څه در څخه غواړو
دوعا به مو د میني، د لالي یا د هیواد وي

ورځه میني بلا څړیکو مي زړه راته نیولی
ورځه میني له تا پرته په نورو دردو ښاد یو

زخمونه که دي نه وینو زګېروي که دي خاموش دي
وطنه ستا په څېر یو موږ به چیري؟ بې تا ښاد یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

که عشق دئ که وطن دئ که مو هیلې ارمانونه
ژوندون د اخیري ارزښت په څېر لیلامو و

مور، نه خرسوو عشق، ملګرتیا، انسانیت
له هر څه نه ړومبی ځانونه ډېر لیلامو و

---

څه ماتي حوصلې دي څه ناهیلي غوندي زړونه
هېواد دئ که لالی دئ په یوه مي زړه ټول نه دئ

د لويو هیلو سرته رسېدلو اومید خلاص دئ
چي زړه مو ترې راټول کې دا هم زمور دپاره ښه دئ

راکړی درد مو مه زیاتوه خیر کې اخلې نه
ناراضه به سې ټوله د زړه زور اوبه دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښارونو کي چوپتیا ده پاتحه پکښي شروع
رواني ويني څاڅي له مذهبه له مکتبه

کابل به مسلمان او کله هم د چا سیال نه کي
چي څوک ورته راپاڅي له مذهبه له مکتبه

---

نه يې خواخوږی سته او نه يې د خفگان سړی
د کابل ويني او زما اوښکي ارزانه دي

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه د زړه د درېدو څخه بېرېږم

ساه مي بنده ده او نه يې سم ايستلای
خدای سته څه راته پېښ سوې يا پېښېږي
زړه کي زر رنګه خبري راولاړي
له دنيا څخه مي ولي کرکه کېږي

زه په ځان کي په عذاب يمه زورېږم
زه د زړه د درېدلو څه بېرېږم

خدای سته څه ګيلې ولي يې کومه
هره هېله ولي بيا در يادومه
خدايه هره شړل سوې دوا مي ولي
ستا تر دره وړمه بيرته يې راوړمه

خدايه زه مي په وجود کي نه ځايېږم
زه د زړه د درېدلو څه بېرېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه مو يو دئ پکښې ډېري هيلي پاتي
په يو قبر کي بلا مړي پراته دي

---

يو ښکلی خو سلام د مسنجر د لاري وکئ
زاری کومه خواست کوم آخير مسلماني ده

---

هيله کوم پرې موږدئ چي خپل ځانونه هېر کو
ماتي حوصلې دي زړونه ټول د وينو ډک دي

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

دئ جنگ مردگو ټوله فاجعه بده يې داس
د ښكلو د څهرو څه يې خندا لوټلې ده

زموږ مردار خواره دي لا تر اوسه په اخته
جگړه مرداره كله كوم وخت چا گټلې ده

د حورو اوازي دي او پر دغو اوازو
څو كاله د وطن زلمكو سا بايللې ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي مرگ مو غوښتئ ستا به پېرزوینه پر موږ نه وه
چي ژؤند مو غوښتئ هیڅ دلیل یې نه پیدا کېدئ

ما خپله خپل د مړو هیلو پاتا و ځان ته ورکړه
ما خپله خپل مړ سوی وجود خپل پر وږو وړئ

کوم درد و چي علاج یې ستا لیده نه وه ګبینه
کوم سوز و چي اواز یې تاته نه دررسېدئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي موږ ورته لېږلي يا مو کړي دي پر ښکلو
زرګونه سلامونه بې جوابه پاته دي

نو ستا له ږنګه وروسته بې خبرو وم خو اوس بيا
د زړه غوښتني سر پر سر بې تابه پاته دي

---

موږ څه خپلي غوښتني ستا دپاره کړلې خاوري
نو ته خو هم يو څوک راکه چي غم مي لږ راسپک کي

حساب به ورکوي د پښتنو ملک دئ اوس خير دئ
تسبو ته دي شيخ جوړ د مات رباب د تار زمبک کي

---

ژوند ته مي په يو ځل درېدلو کړله خوله ستړې
ښکلي هم د لاري منځ کي چاته درېدلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

موربړ لکه د ګل غوندي هر موسم کي بېل رنګ یو
شیخ سره تسبېح وایو ډم سره ګډا کوو

---

خوشحالی لره وړې بهانې غواړو
و غرو ته د دردونو مو تکیه ده لګولې

هر څه رانه په داسي بیه مه اخله خاونده
چي بیي یې کمزوري انسانیت ادا کولې

---

تا ونه خندل ناهیلی سومه پاته
تا مي خدای ته کړې دوا کړه مسترده

ته بیخې تر اندازې زیات ښایسته وې
زه هم مینه کي وتلی وم له حده

(c) ketabton.com: The Digital Library

يو وجود د تنهايۍ وه سر ته ناست وو
يو وجود وو چي دنيا ور سره تلله

بندګان وو موږ غوښتني ستا پره نه کړې
ته خو خداى وې تا دعا را ردوله

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم ماښام وو چي موړ نه درته ژړله
کوم سهار وو چي غوښتني تکرار نه وې

څومره تويي سوې خو نه سولې قبولي
بل علت وو؟ که مو ويني د کار نه وې؟

د ژوندون په هره بېله ثانيه کي
زموږ مقتولي هيلي بلکل د شمار نه وې

سخت وې نه پوهېږم ولي مي کولې
زړه ارام او مرگ ته ولي تيار نه وې؟

ښه صحيح ده پخوا هر رقم چي وې خو
زه قسم خورمه چي دوغونه خوار نه وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان دي ټولولۍ سې؟
يه ټوټه ټوټه جامه

لږ همت د تلو راکه
پښې دي ښکلوم گامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند تېر سو په ارمان یې د لیدلو د کتو
ما قبر ته ور تا کئ د حسینو په لاسو

زما وینه هدیه بوله په شان د اسماعیل
ما سر نذر منلی قرباني د پښتنو

وګړي یې مړه سوې دي یا ساه وي یې زندۍ
سکوت دئ هدیرې هم دي په مثل د ښارو

یو قبر کي مو ښخي کړې لکونه پیغلي هیلي
په یو تکبیر مو وکړې جنازې د ارمانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ سوله غوښتې وه له خدايه څه په لوړه بيه
شر خوښونکي دي د جنگ پر قيمت غور وکي

نه د خپل ځان سو نه د ژوند او نه د بلي ميني
نور دي نو زړه د غنمرنگ پر قيمت غور وکي

---

له خوبه د نازک لالي قربان چي مزاحم دئ
د سترگو د کونجونو د سورخيو تاب يې نسته

سلام مي ورلېږلی دئ خو وخت باندي وتلی
څويم ځل دئ چي گورم ميسنجر جواب يې نسته

نو خدايه زه به کومه يوه مخ ته در ته کښېږدم
په زړه کي هيلي دونه دي چي هيڅ حساب يې نسته

(c) ketabton.com: The Digital Library

لړ موده کېږي يم داسي زه شکمن سم فکر من سم
چي دعا ده که ښرا ده چا چي ژوند راته غوښتلئ

لا دي تل کي ګېله ګرځي لا دي هيله سته چي راسي
زه حيران يمه چي زړه لا لالی نه دئ پېژندلئ

که خدای دوه انتخابونه ماته دې دنيا کي راکي
يو مي ته ور ځخه غوښتې او وطن مي يادولئ

---

هر ساعت کي شندل کېږم ما خپل ځان پر تا سپارلئ
ما که هر څومره کوای سوه ځان مي نه راټولولئ

ټوله شپه له درده وېښ وم د جانان وو د وطن غم
ملا جانه لړ کرار سه اوس دستي سوم خوبولئ

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد ښاد ته :

أستاده د ماښام په تاريکيو کي ورکېږم
استاده د ابشار په څېر گړنگ ته ور بهېږم
استاده د يوه آفت نه بل ته پنا وړمه
استاده د بلا نه د دېو غېږه کي پوټېږم

استاده عذابونه هر ساعت تجربه کېږي
استاده قيامتونه دي چي هره ورځ تېرېږي
استاده نه مي ذهن نه مي سد ورته رسېږي
أستاده لاري ټولي نا مالوم لور ته غزېږي

استاده هر نيم گړی ارمان سترگو ته ولاړ دئ
استاده يو ناکامه داستان سترگو ته ولاړ دئ
استاده د انسان پر شرافت مي شک پيدا سي
استاده يو بې وسه انسان سترگو ته ولاړ دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاده له عفته څه يې ويني دي پاشناکي
استاده  د وطن مور اوښکي  څوک کي ورته پاکي ؟
استاده د رنگونو د جهان رنگ سور بخن دئ
استاده درد دئ  غم دئ او څه څړيکي دي بې باکي

استاده هره هيله دلته زر ځلي مړه سوې
استاده جنازي د ارمانونو پر وږو وړو
استاده دا تابوت د دې ناچيزه دعا گانو
استاده دا مردودي به د ځان سره تر څو وړو

استاده ژوند د کومو کومو ټکو ترجمه ده؟
استاده زندگي دغه بې خونده تجربه ده؟
استاده تقدس د خدای ته دوه لاسي سلام دئ
استاده موږ که وايو او کنه زړو کي گيله ده

استاده ځان او نورو ته به څومره دروغ وايو
استاده په کاذبو وعدو  ژوند اومينه پايو
استاده نظرانه د بدبختۍ څه ور ادا کو
دا سر که يې په کار وي سر ننه ورځې دا يو

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاده دنیا بس دغه د ترس او بیري فلم
استاده موږ به هیلو ته هیڅ نه پکښي رسیږو؟
استاده  د دې فلم خاتمه بې خونده نه ده ؟
استاده آن خیالونو کي اخیر نا کامه کیږو

استاده درد تر کومي کچي ښکاري په کوم حد کي
استاده زړه دئ ستړی سو په چغو په بغارو
استاده کوم یو بڼغ به مو تاثیر وکي احد کي
استاده زده مو نه دئ چل د بل رنګه کوکارو

دا څنګه نا ممکنه ناممکنه تقدیر غواړې
نو زړه په کومه هیله دي کرار کمه چي ژاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له بیا بیا راکتو څه دي زرګونه وار مننه
هغه سي پاته نه یم لکه څه رنګه چي ولاړې

جمیله د دېوانو بسترې کي ور څه ټولي
خالقه وه کابل لره د قاف شاپېرۍ راوړې

دې ښار کي اورېدلو ته غوږونه پاته نه وه
دردونه د وطن به نو په کومه ژبه ژباړې

مکمل به سم زړګیه
بس دئ یو ځلي که راسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

څه اړیکه نه پاتېږي
ضرورته که ادا سې

ستا به څه و سي حسینه
یو ساعت له که زما سې

هره لار کي دریدلی ګوندي ته ور باندي راسې
هر یو پل مي تعقیب کړی ګوندي تاته مي نیژدې کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

قاتل قتل کړم او ولاړئ زه له درده څه تاوېږم
خون بها مي ور بخښلې خو چي سر مې را څه پرې کي

زنکدن دئ ژبه ماته هيڅ مي خوله کي نه جوړېږي
لږ توفيق خاونده ورکه چي حرف پره يې د نامې کي

---

بس هر ښکلی چي ووينو دريږو مينيږو
د خدای د نعمتونو نا شکري کله کوو

د هر چا سره خوا کي د هغه په شاني اوسو
د ډم جانان په خوا کي ملايي کله کوو

د خدای ښکلی تخليق پېژوئ مه مسلمانانو
پردې څه دي چي پټې تجلې کي د خالق

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه هر یوه کتونکي ته کوه مسکا لالیه
مخلوق کي به ژوندئ د عشق جذبې کي د خالق

---

ما چي زړه لیلام ته ورکئ
چا ږغ ونه کئ چي زما دئ

په خوله نه وایي خو بیا هم
گیله من خدایه له تا دئ

---

زما امید خپل خدای ته دئ نو هر څوک چي یې وژني
جرات به یې لري چي هیلي مړې کي د خالق

--

(c) ketabton.com: The Digital Library

بل ځل چي میسج وکې، کېدای سي چي زه نه یم
دا ځلي ریشتیا وایم، د زړه یمه زړګیه

دې دنیا کي هر سړي جانان غمخوار پیدا کړ
څوک چي دي یواځي ولید، زه یمه زړګیه

تېره ورځ دي چټ پر نیمایي باندي پرېښی
څنګه به اوس ووایم، چي ښه یمه زړګیه

چي زایل یې د حسین حسن زوال کړ
ما د هر حسین په پښو کي ور حلال کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما وینه د وطن کاڼو ته ورکئ
پرې ښایسته یې د نازکي زني خال کئ

منګوټې ترې جوړ کئ ګران افغانستان ته
د وجود خاوره مې ختټه د کلال کئ

د هډوکو څخه کار د نېزې واخلئ
او د پوسته څه مې جوړ د توري ډال کئ

قرباني مې کئ چې یو زه قرباني سم
نو کېدای سي چې راضي مو ذوالجلال کئ

نه مو د ظاهر نه د باطن کیسه صحیح ده
مات یو په وجود باندي د زړونو په رقم

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېښه يوه ختمه نه وي بله راپيدا سي
ژوند مو گرځېدلی د خوبونو په رقم

---

موږ که د شهيد عشق و سر ته دعا وکړله
ته دي هم د حسن جنازه نوره در پورته که

---

پلاره! څنگه به ژوندی سمه درپاتي
زه د ژوند په واقعاتو کې راگير يم
ځانغوښتنه کې د نورو وجود وژني

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه په داسي موجوداتو کې راګير

پلاره! څنګه به ژوندی سمه درپاتي
په هوا کې لګيدلی د مرګ شور دی
هري خواته مې ژوندي مړي پراته دي
په انسان کې لا هغه فرعوني اور دی

پلاره! څنګه به ژوندی سمه درپاتي
هيولا مې په وجود کې تنګه شوې
هغه نشته چې وه چا لره ژوندی وم
د خيالو نړۍ مې ړنګه بنګه شوې

پلاره! څنګه به ژوندی شمه درپاتي
څوک مې نشته چاته حال نه شم ويلای
زه انسان يم اخيري حد ته راغلی
په وجود کې دومره درد نه شم زغملای

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلاره! څنګه به ژوندی سمه درپاتي
ارمانونه مې یو بل پسي رالویږي
هیله کله هم د ژوند لپاره نه ده
زندګي به د خوبو لپاره کیږي

پلاره! څنګه به ژوندی سمه درپاتي
تت څراغ یم بې لمبې یم بې رڼا یم
مصنوعي مسکا په شونډو ګرځومه
د وجود د هري برخي نه جلا یم

پلاره! څنګه به ژوندی سمه درپاتي
زه د خپل روح مړ وجود پر وږو وړمه
یوه ورځ به دغه بار له وږو کوز کړم
یوه ورځ به دغه پیتی هم ایږدمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پلاره! څنګه به ژوندی سمه درپاتي
مخاطب مې د وينا لپاره نشته
د يارانو په دې ډک محفل کې بيا هم
کوم رازدار سړی زما لپاره نشته

پلاره! څنګه به ژوندی سمه درپاتي
زندګی ته بهانه کله جوړيږي
تير ايستل به د خپل ځان کوم تر کومه
دا وجود به مې ترڅو پوري پاتيږي

پلاره! څنګه به ژوندی سمه درپاتي
لا ترڅو پوري به غوښې ځان خورمه
لا ترڅو پوري مې مړ وجود د ځان مې
په دې خپل ستومان ځان کې ګرځومه

پلاره! څنګه به ژوندی سمه درپاتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل وجود کې په خپل ځان باندي راتنګ يم

څه په دې دنيا کې لار دبقا نسته

زه د ټول دنيا په بدو باندي رنګ يم

پلاره! څنګه به ژوندی سمه در پاتي

خطر پېښ دلته عزت ته ګام په ګام دی

د رشتيا وينا جرأت په چا کې نسته

هرسړی دلته غلام ابن الغلام دی

د هېلو هدېره وه; ما بې وسه ور کتل

د درد لاره اوږده وه; ما بې وسه ورکتل

لذت وو که خوښي وه; تا را نه کړه اجازه

مستي وه که نشه وه، ما بې وسه ورکتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ونه کړه له تانه؛ په سبب د گستاخۍ
په زړه کي مي گيله وه؛ ما بې وسه ورکتل

---

يو قبر کي مو ښخي کړې لکونه پېغلي هيلي
په يو تکبير مو وکړې جنازې د ارمانو

---

مورې څه وغواړو؟ خدايه مورې به کومه هيله دوا کو
په څه پسي چي زړه تړو بس مه يې رانه اخله

که هر څه راکوي نو ته يې خپله راته راکه
که هر څه رانه اخلي نو خو ته يې رانه اخله

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما وجود زما دزندګۍ خاورين مزار نه وو
ژوند لکه مغروره ښکلې هيچاته ايسار نه وو

زه چې چا غوښتمه ما د هغه پروا نه ساتل
ما چې څوک غوښتلې هغه ماته انتظار نه وو

---

موږ نه وړو د مجلسه څخه زړونه سلامت
پيسې چې څوک بازار ته وړي سودا باندي کوي

-___

د ښکلو له درباره په خالي لاسونو راغلو
اوس ته يې ته هم ښکلې يې چې څه به دي جواب وي

-___

موږ د حسينو بې روخي ليدلې
سګرېټ وژونکي دي خو نه يې پرېږدو

-___

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرگی څه وو د خیالونو خاتمه وو
ژوندون څه وو خو د هیلو قتل گا وه

ستا د مخ په هیله پايېدو او اوس نو
نه ته هغه وې نه ستا د مخ رڼا وه

---

استاد: نورالله ښاد ته:

ژوند استاده د بودا مجسمه ده

په زرگونه انسانان ورته ټيټيږي

هر څوک غواړي چې نژدې ورلره ورشي

او د هيچا سره خوا کې نه اوسيږي

د هر چا نه يې قد څو چنده اوچت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د هيچا لاس يې گريوان ته نه رسيږي

ژوند استاده يو نيم گړی غوندي فلم
يو نيم وخت د خوشحالی يو څو سحنې دي
يو نيم وخت د ژړيدلو کړيدلو
د خپل ځان د ازيت د خوند شيبې دي
ژوند د نورو د خوښی او د ځان زور
ژند په ځان باندي رشخند دی مسخرې دي

ژوند استاده ستا د يو ساعت ليکچر دی
يو نيم وخت پکي خوښي وي او خندا وي
يو نيم وخت وي خيال ټولگي کې شندل شوی
او محدوده مو همدغه سي دنيا وي
ژوند يو نيم وختي بيخي له چا پردی وي
ژوند يو نيم وخت خو بيخي له چا جلا وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند استاده د مغرور ښکولي ياري ده

چې روان وي پښه نيولی نه دريږي

چې دي کله ورنه زړه موړ شي نو بيا خو

يو ساعت يې لکه کال هسي تيريږي

ژوند له مانه مرور او زه له ژونده

زه په ده او دی په بل پسي زوريږي

ژوند استاده نا مالومه شان صحرا ده

انسانان پکي روان دي او ورکيږي

پل چې واخلې شاته وګورې څه نه وي

پل دي سم دلاسه تا پسي ورانيږي

ژوند يو جبر دی په ما دی تپل شوی

ته که و غواړي که نه غواړې نو کيږي

ژوند استاده د عطار لالا دوکان دی

تورل شوی نرګسي رنګ ګل ګلاب دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې خوشبو نه یې نور خلګ مزه واخلي
زما په ژوند باندي د بل سړي حساب دی
ستا و شور لره به نور خلګ ګډیږي
ژوند خو هیڅ نه دی که دی درد د رباب دی

ژوند استاده یو بدرنګه غوندي خوب دی
تخریب شوې یې بېټه د تکرار ده
ژوند بیخي له چانه پورته له چا کښته
ژوند د غره د ټیټو پورته غوندي لار ده
ژوند د خیال د سوداګانو ښاریه ده
ژوند زما او د جانان تر منځ لانجه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library

-

ژوند ته مي په يو ځل دربدلو کړله خوله سترې

ښکلي هم د لاري منځ کي چاته دربدلي دي؟

-

استاد محمود اياز ته :

دلته نور د رڼا تت دئ

دلته مړ انسايت دئ

دلته يو د بل بېزاره

دلته جوړ خدايه قيامت دئ

دلته هره هيله مړه ده

دلته مات هر يو قامت دئ

د دې خلگو غرور دومره

له خدايانو نه اوچت دئ

دلته هر حسن خاموش دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلاص د هر ښکلي د نازه

دا زموږ د وطن حال دئ

يه زما محمود ايازه

زړگی کوندۀ سو مينه مړه سوه

ضمير خلاص سو د وجدانه

دلته روح له ژونده تللي

ساه وتلې له انسانه

دلته يو صفت د خدای ج دئ

رحم نسته له رحمانه

دنيا مړې سترگي درگورې

زما بدنام افغانستانه

دلته هيله د خير نسته

له انجامه تر اغازه

دا زموږ د وطن حال دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## یه زما محمود ایازه

څه کافره خاموشي ده
هر یو ذهن مو رکود دئ
د ولاړ بتانو ښار دئ
بې خوځښه مو وجود دئ
هر څاکښه یې فرعون
هر په ځان غټ یې نمرود دئ
اور یې ختم لمبه ولاړه
دا د سوي وجود دود دئ
نه څه وایي نه څه اوري
که ایاز دئ که محمود دئ
پر څهرو باندي مو گوره
ترهېدلی شان جمود دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړه د زړه له درده او له څړیکو څه خبر نه دئ
زړه که زړه درلودلای نو به دومره دردېدلای نه

---

زما مړی پر خره یوسئ د لحد تر غاړي پوري
په ما باندي درنې نه کئ وړې د انسانانو

شکولای بې د یو بل نه په ژوند د بدن غوښې
که چیرته وای په لاس کي فیصلې د انسانانو

---

هغه هم وخت وو ستا نامه په بسم الله یادېده
هغه هم وخت وو در پسې چي اوښتې سترگي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه هم وخت وو چي غرور مو غرونو نه ماتوئ
دا نو هم وخت دئ چي د شرمه څه وړو مړې سترگي

---

چي اوس به هم انسان د انسان درد دوا کوي
وه زړه ته مي هيڅ نه لوېږي په زړه کي خواخوږي

نې فرض وسيله او نې سنت سلام جواب کوئ
د دې دور د ښکلو وه بس دا مسلماني

---

لاليه زړه په کومه اندازه باندي خوږيږي
لاليه په څه حد کو عذابونه د وجدان

موږ نه وايو سندري د وطن د ازادۍ
نور پرېږدؤئ چي پاته سي غلام افغانستان

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاد محبت ته:

استاده ژوند ژوند نه دئ ژوند عذاب دئ ژوند وبال دئ
استاده زما په زړه يو زه خبر بل ذوالجلال دئ

استاده اندامونه مي زما نه دي پردي دي
استاده د وجدان جواب مي هيڅ نه سم کولای
استاده د دنيا د عذابونو منځ کي ګېر يم
استاده د وطن خاوري ته نه سم ور کتلای
استاده شونډي قلف دي په ځهرو خبري کېږي
استاده د الفاظو ټکي نه سمه ويلای
استاده ته خبر يې په دې دومره لو دنيا کي
و خپلي زندګۍ ته دليل نه سم جوړولای

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاده ته خبر يې ټول وطن کي داسي حال دئ
استاده زما په زړه يو زه خبر بل ذولجلال دئ

استاده درک کواى سې پر موږ کوم عذاب تېرېږي
استاده له زخمونو څه مو سرېويني بهېږي
استاده خپل پر پوهه مو لعنت ويلى هم دئ
چي هر څو توافق وکمه نه ور سره کېږي
استاده د خدايۍ دعوېدار اوس هم ځاى ځاى ناست دي
استاده د وطن  ناموس ليلام دئ ليلامېږي
استاده دغه خاوره به بيا غېږه کي ځاى راکي؟
استاده زموږ وجود به څنگه نه ترې نه شرمېږي
استاده د دې خاوري زړه کي څه بلا کيسې دي
استاده چي خوله نه لري نو څومره به زورېږي

استاده زموږ واکمن څوک دئ موسى دئ که دجال دئ؟
استاده زما په زړه يو زه خبر بل ذولجلال دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاده مسلط پر موږ څه بل رقم آفت دئ

استاده چي څه ووايي د کوم سړي جرأت دئ

استاده د انسان پر انسانيت مي شک پيدا سي

استاده شرف څه دئ او دا څنګه شرافت دئ

استاده اوسنی انسان ريشتيا خنځير طبيت دئ

استاده دا نو څه دي دا نو اوس زما کرامت دئ

موږ نه پېژنو څوک چي مو موذن دئ او بلال دئ

استاده زما په زړه يو زه خبر بل ذولجلال دئ

---

ښکلي دي اوس را نه ګيله نه کوي

نه زه هغسې يم نه زړه هغه دی

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر مرګه ورسته څه را څه پاتېږي په میراث کې
یوه کونډه مېرمن او څو میراتي پېغلې هیلې

اوس دا راته معلومه سوه له تا نه وروسته درده
چې داسې تجربې سته چې چا نه دي ازمیلې

---

ژنې ارمانونه مې بې ساه وجود ته ګورې
پېغلې پېغلې هېلې مې و مړه جسد ته ژاړې

---

موږ هېله د خیر وکړله له هرې فاجعې
د ډمې ضرورت وو و هر چا ته نژدېکت

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

موړ ته څه را پاته سوه موړ کمي خوا ته ولاړ سو
دا دنيا د دې ده آخرت خو د هغو دئ

ژوند دومره ارزښت نه لري څومره چي يې ښيو
مرګ څه دئ خو بس همدا تصوير زموږ د کړو دئ

---

په راتلو دي زه د ځانه سره راوړم
چي ته ولاړې بيا نو دی په خپله نه وو

نه په ساندو نه سندرو رابيدار کړل
د دې ښار ولس په داسي خوب بيده وو

څه خبري يې په سترګو کي راتولي
څه ارمان يې وو چي پاته يې پر زړه وو

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

---

يه سپينو مرمرينو نازنينو څوک مو غواړي
افسوس راته درېږي حورو ستاسو پر نصيب

---

يوېبوړل ټيکري د پښتنو پېغلو د سره څه
اې د جنت حورو ستاسو سرو اوسپينو غاړو

څه ګېله به وکو موږ د نوو مينانو
موږ په لويه بړېره خپل بايللي زړه ته ژاړو

موږ ته که څوک راکي حق چي يو ور پکښي وغواړئ
ژوند به انتخاب نه کو جانان وطن به غواړو

پرې موږدئ چي حق د خپل خالق د ژوند ادا کو
يه د جنتو پر دېوالو باندي ولاړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هر حسين دومره بدنام دئ
درېداى ور سره نه سو

تا هم نه منل رام نه وي
تېر دي حسن سولو ښه سو

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ نه ور سره کېږي

خليفه دي خدايه بيا ځل

د قابيل پر لار روان دئ

شرافت ور څخه محوه

رنګ روغن يې د انسان دئ

که څهري دي محوه سوې

د رنګ رنګ رنګ حيوانانو

سپي غوايي را زرغون سوې

په څهره د انسانانو

ته يې کبر نور زوال کې

يه قاهره يه قهاره

انساني خدايان کړه ختم

لايزاله ذوالجلاله

يو ځل بيا را خپور ماتم دئ

ابو جهل دئ ختلی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کعبې څپېڅلي بام ته

غواړي محوه انسانیت کړي

خلګو ټولو غوږ نیولی

د شیطان نوي پېغام ته

نه څوک وایي څه نه اوري

دجال اوږد کمیس اغوستی

تېر ایستنه د امت کړي

سر راپورته که غمخوره

یه محموده یه احمده

ستا امت له لاري باسي

محمده محمده

شیطان سپور په سپینه اسپه

تول د خیر او شر یې لاس کي

د قیامت په شاني ګوري

اندرون د انسانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library

دجال پورته کښته ځغلي

په مستۍ او خوښۍ سر دئ

زموږ هیڅ په وس کي نه دي

هیڅ مو نه کېږي د لاسه

اسراپیله شپېلۍ پو که

عیسی نور نو بالا راسه

دروند استاد نورالله ښاد ته:

استاده عجیبه گنگس حالت دئ نه پوهېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاده څو پوښتني دي چي ډېر ورته زورېږم

استاده انساني شرف په څه کي دئ او څه دئ؟

استاده انسانيت تعريفېدلاى سي كه نه سي؟

استاده پستي حد لري كه وي نو بيا تر كومه؟

استاده كه انسان كي انسانيت وي نو بيا څه سي؟

استاده ژوندون څه دئ او قيمت يې ولي جګ دئ؟

استاده ارزښت څه دئ د جګړې او ولي وه سي؟

استاده هېواد مخكي دئ كه ژوند د انسانانو؟

استاده پر هيواد دي ګلالي انساناَن مړه سي؟

استاده زه انسان يم د انسان خلاف جنګېږم

استاده څو پوښتني دي چي ډېر ورته زورېږم

استاده تياره اصل ده كه اصل يې رڼا ده؟

استاده ښه تر مخه كه بدي مخ ته پيدا ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاده د فاني انسان غوښتني ابدي دي؟

استاده ژوند مو اصل دئ که اصل مو فنا ده؟

استاده د عدم وجود پخپله يو وجود دئ؟

استاده عدم هم د ژوند يو برخه يوه خوا ده؟

استاده په پردۍ هستۍ خطا يو نه پوهېږو؟

استاده جنګ پرې موږ کوو خو دا دنيا د چا ده؟

استاده د خيال هيڅ يوې ګوشې ته نه رسېږم

استاده څو پوښتني دي چي ډېر ورته زورېږم

استاده آدم مخکي دئ که مخکي ترې مذهب دئ؟

استاده د نيکيو د تللو معيار څه دئ؟

استاده مينه څه ده او د څه نه پيدا کېږي؟

استاده نو د ميني مرکز ذهن دئ که زړه دئ؟

استاده مينه مخکي ده که حسن ترې لمړی دئ؟

استاده مرګی حق دئ خو يو څو ورځي ژوند ښه دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاده زه د ژوند په گډوډیو کي ورکېږم

استاده څو پوښتني دي چي ډېر ورته زورېږم

استاده جنگ پر څه دئ او پر څه څه باندي کېږي؟

استاده د چا ژوند اخستل حق د یو چا کېږي؟

استاده انسانان جگړه کوي د څه دپاره؟

جنگ خپله یو هدف دئ که وه بل هدف ته کېږي؟

استاده زما په اند مینه په یو ځل کتو نه ده

استاده مینه هم له بیا کتو نه پیدا کېږي

استاده ضرورت څه دئ د لاري د ټاکلو؟

چي لاري کله ډېري سي سړی پکښي ورکېږي

استاده زه د زړه عقل په منځ کي حیرانېږم

استاده څو پوښتني دي چي ډېر ورته زورېږم

(c) ketabton.com: The Digital Library

استاده تاریخ څه دئ بېله دې ځان تېر ایستنه
استاده موږ له خپل قاتله هم کړې مننه
استاده پښتو څه ده غیرت څه دئ خرتوبي ده
استاده جگړه څه ده د بدذاته کس خواري ده
استاده ستا د سترگو نه قربان سمه حیران یم
زه خر یم که سړی یم که غویی یم که انسان یم

موږ لکه د گل غوندي، هر موسم کي بېل رنگ یو
شیخ سره تسبیح وایو ، ډم سره گډا کوو

خاوري ایره کیږو به مړ وجود به نه لرو
شمعي غوندي ځان سوزو اور کوو رڼا کوو

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نازک جانان زړسوی
خدایه ستا مهرباني

زما په یو نظر کتو
ازار وسو د لالي

زموږ ژوند دي سي تمام
ستا دي پاته سي ځواني

زما ابرو زما عزت
ستا د یو نظر قیمت

د شهوت خیالي ارضا
دا تعریف دئ د جنت؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما و نه ليدئ دليل
د انسان د شرافت

ژوندون څه دئ بېله دې
يا احتياج يا ضرورت

موږ رټلي د تاريخ
دغه دئ زموږ حقيقت

ما اوف ونه کئ ته تلې
تو پر دې مينه لعنت

يويشتمه پېړۍ او
د پښتون قام جهالت

مجلس ډک دئ د پردو
د يار دا بې وخته ست

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د چا سوې زه د چا
په موږ څه وکړه قسمت

زما په مرگ به سي تمام
ستا د نه راتلو علت

ابوجهل دعوه دار
د کعبې د امامت

نه کابل ښار کي پردي
او نه ستا پر باړخو خط

دلته هر ذهن مردود
دلته هر فکر غلت

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

بد کوو که ښه کوو
خوښه مو د زړه کوو

ځو در نه روان يو بس
يو نظر کاته کوو

خوی مو د جتانو دئ
نوم د پښتانه کوو

ستا کوڅه کي وخت نا وخت
اوس هم تله را تله کوو

لږ چي يې قيمت ښه سي
ځکه خو رانجه کوو

ستا تشي خندا ته ناست
نور دي نو موږ څه کوو

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ د سر قاتل ته خپل
خواست د ژوندانه کوو

زړونو ته د هر ښکلي
ګراني لاره نه کوو

د پردو حورو په عشق
پیغلي کونډې د باګرام

نه ته راغلې او نه مرګ
او پر ما سولو ماښام

عشق د بوري کونډې زوی
د هر ښکولي دئ غلام

(c) ketabton.com: The Digital Library

تلم خو ته راغلې نو اوس
نر به وي چي واخلي گام

ښايسته زنه دي سېب
اوږدې سترگي دي بادام

د بازار پر هر حسين
موږ ويلی دئ سلام

د انسان قتل جايز
مينه عشق يې دئ حرام

(c) ketabton.com: The Digital Library

حتمي ده چي همدا به کرامت د محبت وي
چي ناز د اوبو وړي پر وږو کاڼي پته خوله

د ژوند مفهوم يواځي د نګار مخ ته کتل دي
سپرلي پسي رژېږي د ګل پاڼي پته خوله

موږ نه سنجوو ګټه او تاوان د مخکي تلليو
موږ يو د بل پر لار ځو لکه زاڼي پته خوله

بيخي ډېر ملامت دئ ما بخښلی دئ خو ولي
بيا هم تېروي وچ ستوني ته ناړي پته خوله

پر موږ به قضاوت کوي لوستونکي د سبا
راتلونکي ته موږ يود کتاب پاڼي پته خوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما قسم اخستی یاره, چي ته نه راځې دلېته
ما حانث که په قسم کي , دروغجن مي که خو راسه

زموږ ژوند مجبوریت دئ; نه ترې کېږي نې کوای سو
د بې دینه امام نفل; وي اوږده خو بې اخلاصه

هره لاره چي کږه وي, حتمي نه ده چي وي بده
د باړخو څه کږې لاري, وي د سپیني خولې دپاسه

ستا وه مخ ته په کتو کي,څه خبري زړه ته راغلې
توف لعنت دي وي درباندي, ای شیطانه اې وسواسه

زما عشق مجبوریت وو, او ستا حسن ستا غرور وو
تاته حسن پاته نه سو, عشق مي ووتئ د لاسه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خندا سرتېرى يار سنگر ته لېږم
لومړيتوب زما نه زيات يې د هيواد دئ

زموږ مينه به نو ښه پر مختگ وکي
په کتو کي چي د يار دونه فساد دئ

دې کتو کي مي بلا خاطرې غوټه
دې څهره کي مي د تېري ميني ياد دئ

انساني خواخوږي دونه لرم ځان کي
حسن ستا ځي زړه زما پسي برباد دئ

تا دنيا کړله پيدا د چا د رويه
ماته دا وطن د چا په سترگو ښاد دئ

ستا د نوم ذکر زما په نامه کېږي
شيرين حسن پورورې د فرهاد دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وربم نسته د رنگيني پېغلي سولي
را البوتی د بدبويه جګړې باد دئ

د هر سپي در ټکولو ته دي اړ کړي
ضرورت بيخي د ډم سړي اولاد دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یار زړه ته سره د غرور نه سو رسېدای
د خوني چي چارچو ټیټ یي نو سر به ټیټوو

زما او ژوند اړیکه د قصاب او سپي اړیکه
نه رحم په قصاب کي وو نه موږ ور څخه تلو

د ژوند د خوند دپاره نمکین حسن په کار دئ
خواړه چي بې نمکه سي په زور یې تېروو

اوږدې سترګي دیار اوږده بادام د دهراوت
په یو باندي دماغ او په بل زړه ارامو

نه یار مو پکښي ولیدی نه زړه سو ور څه مني
د یار د کور و مخ ته دا دئ څو بېرته رآځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما دي وخوري د دښت سپي
بدرنګ مه وړئ زما تابت

زه هندو درته لګیا
ته ولاړ يې لکه بت

سترګي ښکلي دي د خوست
ښنګ زموږ د دهراوت

---

تهمت پيغور دروغ الزام او ظلم
قسم په خدای که پسي سر ګرځوم

په بعضو خلګو پسي سترګي اوړي
په بعضو ښکلو پسي سر ګرځوم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوندون چي بې اسري سي خپل وجود پر سړي بار سي
نو سترگي چي بې خوبه سي بانه باندي درانه وي

موږ هر څه په مصرف رسوو نې پرېږدو سبا ته
موږ نه وړو د بازاره څه پیسي وي او كه زړه وي

چي وخت اخيري وخت سي زندگي سي ارزښتمنه
سگرټ كي بيا تر نورو اخيري لوگي خواږه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ارمان به مې کولی خو ارمان به يې را نه غلئ
غربت دومره وهلي وې زما تيري خاتيرې

زه اړ ومه و بل ته زما بل ته احتياج وو
که تېوله نه وې داسي وې زما ډېري خاتيرې

زه نه ساتم ياداشت د تېري سوي سحني ځکه
زه غواړم چي کړم ستا سره ستا هيري خاتيرې

---

ژوند که زما غوندي بدرنگه وي نو تېر دي سي
مرگ که د يار په شاني ښکلی وي نو را دي سي

لږ څه خوښي که زموږ برخه وي نو را يې که
زموږ خوښي که ستا په ښه درځي نو ستا دي سي

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه یار ته د کتو قیمتي وخت په دې کې تېر سو
زه نورو ته ورگورمه چي څوک راته راگوري

---

د خالق در کې به څه کمی رانه سي
ژوند دي داسي نه وي لېږ شاني دي سم سي

د څراغ رڼا به خامخا کړي تته
دا لوگی دي د امکان تر حده کم سي

---

پښو ته يې د سپينو اننگو سرخي را کښته سي
کله چي د سپينو قدمو په سر ولاړ يي گل

اوس د طبيت د ظلم دا اندازه وه گورئ
لمر سره شبنم ځي او تر شا ورپسي ژاړي گل

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

عدل به وسي؟ امکان یې کم دی
قاتل روان دی، د قاضي کور ته

ژوند که رضا دی؟ خوښه مې نه ده
که داسې نه وي، تسلیم یم زور ته

په کومو سترګو؛ نظر دروکم
څوک ورکتای سي؟ د سترګو تور ته

څومره چې ستر وي؛ چیغې یې نه وي
د شپې چوپتیا یا؛ د دریاب شور ته

د ځان ښودونکو؛ ځانته پام نه دی
هومره توریږي؛ دود چې ځي پورته

یو نظر وکه؛ د ناز په سترګو
ستا د ښایست د؛ خریدار لور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عشق د اثراتو حدود دومره زورور دي
د خپل یار د نامه په کلیمه کي خرابیږي

په سترګو کي ولاړ ډنډونه مه پریدئ د اوښکو
اوبه پاته د زړو په کوزه کي خرابیږي

د لوی فکر خاوند ته به تر ډیره د نوم یاد وي
صحرا کي پل ژوندی وي خو کوڅه کي خرابیږي

دا زموږ ذهن کي وهم دی که داسي حقیقت دی
څهري مو ښایسته دي آینه کي خرابیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نورو خیر چې غواړي له تهمته ځان سنډه مه
د لارې پر سر درختو باندې پروت د سړک گرد یې

ښایستو باندې لاسونه اړول د ظلم حد دی
نو سترگې په درنیږي خیر که هر څومره سپک گرد یې

زموږ پر څهرو نه ښکاري که خاوري وې که دوړې
نازکو سره بد ښکاري که هر څو نازک گرد یې

د داسو ورځو موږ شاهد حال نه سو شاهده
د ښکلو د څهرو په شان له زړونو یې ورک گرد یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زړګی د غوښي دئ پیوند به واخلي
مګر داغونه یې ضرور پاتیږي

غریبي ښه ده خو بیا دا سخته ده
په شته دنیا کي چي مجبور پاتیږي

---

زه د سپي په شاني نه در څخه ځمه
اخیري هیلي ته هم نه پوره کیږې

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خپله ککرۍ ستا تر قامته کړه را ټيټه
ما زما و ستا له منځه خپل ځان و يستۍ جانانه

ولاړه زمانه به مو تر سترګو تېرېدله
موټر کي و سپاره کس ته دنيا ښکاري روانه

که ژوند کوې نو سل ځله به لويږې پورته کيږې
ګلابه پر بې ځله خره سورلي نه وي اسانه

زما ژړا تاثير ځنګه پر وه نه کۍ حيران يم
دا واوره دي نو ولي خپل په ځېر نه کړه بارانه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډېرو ارمانونه بيخي ډېر وي او لوړ هم وي
د بعضو ارمانونه بيا يواځي يو سړی وي

چي زه درته ونه ګورم ته ماته ايسار نه سې
نه ته به ښايسته يې نه مين درباندي دی وي

---

ظالم حسن ته موږ په کتو هسي کئ ځان ستړی
يتيم پردي خيرات ته ورځ نهره تيره کړه

د چا چي آن په خيال کي د راتللو سړی نه وو
هغه سړي بيګا شپه تر سحره تيره کړه

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چي هوښيار سي مرغه بيا مښلي په دام سره
ځومره چي بې عقل سې نو ژوند کوه ارام سره

وړي هوسونه مو د هر حسن خواهش کوې
وړی سپی نو څه گوري حلال لا د حرام سره

هر څو که لويدلی يې خو بيا هم همت لوړ ساته
زر ځلي پاتيږي پل خو بيا هم ځي د گام سره

---

*د ورستي کال مي ورستی غوندي شيبې دي*

*ژوند مو هم دئ ورستي حد ته رسيدلی*

*زه ده ځانه څه په څو چنده را تيټ يم*

*ځان مي نه دئ لا هم قد ته رسيدلی*

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکچرونه مو نیم یاد دي نیم هیر کړي

ستا څهره مو لا په ذهن کي انځور ده

لا دا یو سوال مو استاذه بې جوابه

ما ژوند هست کړ که ژوند ماته وجود راکړ

د شهرت وړي دي دا پښتنه حل کي

چي ایاز محمود مشهور کړ که مشهور محمود ایاز کړ

د ورستي کال مو ورستۍ غونډي شیبې دي

ستا لیکچري به نور ختمي وي استاذه

خو پښتني بیخي ډیري لا ینحل دي

فکر مخته دئ که مخته تجربه ده

او احساس زموږ د څه نه پیدا کیږي

د کلیاتو او جزیاتو ترکیبونه

ضرورت څه دئ چي جوړ کړو تري خیالونه

تخیل مو ولي بره ځي اسمان ته

نالیدلي غونډي ووینو خوبونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورستي کال مو ورستی غونډي شيبې دي

لا تر اوسه ذهن ډک دئ د پښتنو

شيبې ولي تکراريږي نه که گورې

مځکه گرځي هر څه بيا بيا نه را څرخي؟

خوب د ژوند که ژوند د خوب انعکاسونه

مينه ولي او د څه نه پيدا کيږي

زړه تنگون چاته په کوم سبب رسيږي

هري ورزې ته مو هيله د خوښی وې

او د تير وخت کوو ولي اوس غوښتنه

د ورستي کال مو ورستی غونډي شيبې دي

نه به بيا صنف کي لانجه وکم چي جگ سم

نه بيا ستا د خبرو منځ ته دانگم

خو پښتنه کول ما کي يو مرض دئ

رابطي له مرگه ورسته ولي شکيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

 څه اړیکه خو ماده نه ده چي مړه سي

او ددې ستر حقیقت نه څوک ډاریږي

وخت گردش د سیارو دئ که کوم بل څه

او که سي دا سیارې بې حرکت

زموږ ژوند زموږ ځواني هم پاته کیږي

د ورستي کال مو ورستی غونډي شیبې دي

خو کیدای سي چي ژوند هم یوه ورز داسي

لکه زموږ څلور کلنه دوره پای سي

بعضي بعضي خاطرې به مي در یادي

زه به نه یم ته به پوستې کوې پوهیږم

ډیر که نه وي لږ به حتما در یادیږم

ستا پر ذهن به هغه شیبه در گرځي

زما وستا د تضاد سوال او جوابونه

درند استاذ نورالله بنیاد مخاطب دئ ده ته لیکل سوی دئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرگ مي ستوني ته راغلی؛ یو ځل بیا دي نامه اخلم
هر تهمت پرېږدم روان یم؛ اخیري غوندي الزام دئ

زه په خپل ځان کي ورک سوی؛ زه په خپل ذات کي بیرېږم
خاموشي چي وي ځنګل کي؛ ویرونکی شان ارام دئ

ستا تر دره یم راغلی ؛ د ګناه ثواب بې یاده
سپي ته یو رنګه حساب دي؛ که حلال دئ که حرام دئ

موږ چي ژوند کوو کوو یې؛ پر ګردش خوړونکې مځکه
دا دئ بیا هم یم ناهیلی؛ دا دئ بیا هغه ماښام دئ

څه پښتنه د حالاتو؟ څه په درد به د وطن وي
څه بلعکس ماملہ ده؛ جت باچا او شپون امام دئ

زه

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته که نه يې ژوند روان دئ ته که يې هم سا چليږي
که يو کاڼی پکښي ډوب سي او که نه وي سند بهيږي

خدای په کوم ځگي کي نسته خدای په کوم ځگي کي هست دئ
غم په کوم ځای کي پيدا دئ غم په کوم ځای کي وسيږي

ژوند مي کريږو باندي پيل کړ حقيقت يې رامالوم وو
اوس يې گنگ سوم حقيقت کي اوس مي سد نه ور رسيږي

زه که نه يم بيا به بل يې بل که نه وي بيا به بل وي
د ساحل د غاړي ريگ دئ د چپو سره بدليږي

لار که خره ته وي مالومه انسانان هم ورپسې وي
څوک چي نورو پسي نه ځي لکه پل به پاته کيږي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ماښام خنجر ځيګر د اسمان پرې کئ
د ناکامه سړي هيلي ترې رواني

ژوند په هر سړي بلا بلا کاني کړي
نو و غره ته د ختو لاري وي ګراني

د يار غيږه هم يو څو شيبې خوږه وي
د سند غيږ کي څه ټکري وخوري کاڼي

بوډاتوب کي دنيا ټوله ځان خوړل دي
په ډسکو کي نڅاګري غواړي ځواني

(c) ketabton.com: The Digital Library

لږ پرېږده نڅاګري چې موږ خوند در څخه واخلو
روان یو وخت اخیر دئ او پر موږ باندې سحر دئ

ته رږغ راته را وکه زما خاورې به در آ کې
زما پر خپله مینه آن تر دې حده باور دئ

نو څه ضرورت هره ورځ چې لاس کم ورته لپه
هغه زما په حال باندې تر ما لا هم خبر دئ

لیلام دئ ستا د مینې بهانه د پاتې نسته
قیمار ته مې راوړی که مې ځان دئ که مې سر دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوند کومه ځان تير باسم
درد مسکا کي پټومه
خپله خپل د ځان د تندي
په خواږه انداز کي مرمه
خودي وژنم ستا په پښو کي
تقدس ليلاموومه
زما ځانه بخښه غواړم
تا په کم قيمت پلورمه

ژوند کومه ځان تير باسم
روحا مات جوړ په قامت يم
د لمر مخي ته دعا ده
زه نيمګړې عبادت يم
د سجدې پرته پره کيږم
هديره کي جماعت يم
زما ځانه بخښه غواړم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زه بيخي در ملامت يم

ژوند كومه ځان تير باسم
د آدم په روح قسم خورم
نه مي ځان چيرته پيدا كړ
نه د بل په درد او غم خورم
د انسان شرف مي داو كړ
د هوس شهوت ماتم خورم
خپل وجود باندي لگيا يم
خپل وجود پر هر قدم خورم
زما ځانه بخښبه غواړم
كه به لږ هم دا ستا غم خورم

ژوند كومه ځان تير باسم
په تياره كي ځان پريدمه
ټول خوښي د ژوند دي ستا وې

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه همدغسي ښه يمه

وخت مې پښې راته تړلي

لار د تيښتې لټومه

زما ميني زما ميرمني

لياقت دي نه لرمه.

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا مه پوښته چي ولي ستا په خوا کي يمه غلی
ښکاره ده چي په ورانه هديره کي به چوپتيا وي

خپل فکر دي تل دنگ ساته خپل خيال دي تل اوچت
د لوړو غرو پر څوکه به تر ډېر وخته رڼا وي

قربان دي سم لږ خيال مي ساته ډير درد مي ليدلی
زړې پاڼي تويیږي که هم لږ غونډي هوا وي

را ځه غيږه دي راکه او په خوږ درد کي مي نغاړه
دا ستا د لږ گنا عذاب دي هم گراني پر ما وي

زه نه پريدم چي بيا يې شبنم غيږه کي شپه وکي
گلاب شکوم پريږدم يې نه روا که نا روا وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانته مه کيږه د نورو سره اوسه
په صحرا کي پل تر ډيره نه پاتيږي

جار را ړنګه سه مزغی دي لږ را مات که
لو څپه د ساهل غاړي ته ټيټيږي

زړه به ښه درڅخه صبر سي اهاړ دئ
او خولې دي په مخ ماتي ماتي کيږي

ژوند نو ولي د ژوند نوم ځانته ټاکلی
او مرګ ولي بيا د مرګ په نوم يادېږي

---

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا په تګ باندې ګلابه تیاره کېږم
په لویدلو د لمر هره شپه ماښام سي

څه ترخه شیبه خواږه درد کي رانغاړي
په مسکا چي اخیري حد کي ناکام سي

محبت دئ سر چپه کاني پکښې کي
چي باچا به احتیاج د خپل غلام سي

زه یې ځکه نامه نه اخلم په شونډو
هسي نه چي د ملګرو منځ کي خام سي

د آدم لوري دغه قیمت دي بس دئ
یو عزت لرم چي دا مي در لیلام سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه دي مات سمه قربان ژونده کوم دي
کتابو کي ارزښتمني پاڼي کات وي

دنیا دوه څیزه ده یا خو د یار مخ دئ
یا یواځي عبادت څنګ د جمات وي

محبت به مو د سر نیت او شروع وي
زندګي به مو اخیر اخیر رکات وي

زما زړه پاک دئ نو ځکه بتان ساتي
میخانه کي نه کعبه کي سمنات وي

د شمال سره دي زلفي کج وخم سوې
خیال کوي نه لطافت کي احتیات وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستا همداسي راکتل او زما تنده
وچ وابنه خو بهانه غواړي و اور ته

څه! در ټیټ به سم سجده به درته وکم
خدای مي مه جوړیږه لږ خو سه راپورته

دا دئ نن هم بیا زړه شیبه تکرار سوه
دا دئ نن بیا هم ناکامه څمه کور ته

یو سړی د کمه وخته ورته ناست دئ
نیمه شپه ده د سپوږمۍ د پیغام لور ته

د ساحل کاڼي په غیږ کي د یو بل دي
په ارامه باندي غوږ دي د سند شور ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا ځلي پاڅیږم ښه مي نور وژني
ستا یاد مي په ټول وجود کي زور وژني

زه که هرڅه یم خو غورزوه مي مه
هر څومره مرداري اوبه اور وژني

ما مي د خپل ذات تیاره کي غلی که
شپه د کایناتو څخه شور وژني

څه میني اخستئ دئ څه ستا تندي
بل طرف خبري یې د کور وژني

شپه یې تیره کړې تهمت نه اخلي
ګل په زوړند سر باندي پیغور وژني

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت وسو چي چاته مي په کوم نظر کتلې دي
لا هم تردا اوسه مي د زړه په خوا کي غلې دي

ژوند ته مي په يو ځل دريدلو کړله سترې خوله
ښکلې هم د لا ري منځ کي چاته ديدلې دي

ته وايه په کوم مجلس کي ما ځان در بدنام نه کئ
ووايه چي ستا خبري ولي ما شميرلې دي

زه نور رانړيږم حوصله مي ختمه سوې ده
تيز باد کي هميش غټې او لوی درختي ختلې دي

غيږ کي دي دمه راکه چي سترى درته راغلمه
کله پښتنو ميلمانه هم له وره شړلې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بار بار مي غوښتنه خدای ج نه پريښوده
تپوله اميدونه مي زاړه ښـــــــــکاري

ژوند لکه چې ښکاري داسي هم نه دئ
لوی غرونه د لري نه واړه ښکاري

ماته ستا څهره ولاړه سترګو ته
ډير تږي ته هر سراب اوبه ښکاري

تاته د درتللو امکان ختم دئ
ژوند ته له تا پرته لاره نه ښکاري

ستا د بارخوګانو ژوروالی څه
وي به نيمګړتيا خو بيخي ښه ښکاري

(c) ketabton.com: The Digital Library

شهوت اخستئ؛ څه امتحان دئ
نرئ جامې دي؛ نرئ باران دئ

زړه به خوږېږي؛ زړه دئ مين دئ
حسن کې ورک دئ؛ درد يې د ځان دئ

هلک جينئ ته؛ ګلاب نيولى
او بيا په ځوړند؛ سر ترې روان دئ

يو چا زړګى دئ؛ ليلام ته وړى
څوک يې اخستو ته؛ حق حيران دئ

اميل شکولى؛ ښايستې د غاړې
کور ماته ګوري؛ په ما تاوان دئ

شاهد په کټ کې؛ په خندا پروت دئ
دا ورته ژاړي؛ زړه يې پريشان دئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library